د افغانستان اسلامي امارت

لوړو زده کړو وزارت

اناستو پوهنتون

دعوت او ارشاد آمریت

د دعوت او ارشاد کمېټه

# د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د فرامینو او اسلامي امارت د نافذه قوانینو د ابلاغ، تطبیق او نظارت تګلاره

کال.........................................۱۴۴۷هـ ق/۱۴۰۴هـ ش

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# د موضوعاتو لړلیک

موضوع | مخ

سریزه..........1
د تګلارې موخې..........1
د تګلارې ارزښت..........1
د تطبیق ساحه..........2
اصطلاحات او تعریفونه..........2
د فرامینو او قوانینو نوعیت او د تطبیق کچه..........3
الف: د فرامینو او قوانینو نوعیت..........3
ب: د تطبیق کچه:..........3
د فرامینو او حکمونو د ارشیف، ثبت او ساتنې سیستم..........3
تکثیر او ابلاغ..........3
د تکثیر او ابلاغ مسؤولین او د دوی مکلفیتونه..........4
د پوهنتون له ریاست..........4
د نظارت او ارزونې عمومي مسؤولین او د تعقیب ډول..........5
د نظارت او ارزونې فرعي مسؤولین..........5
د راپور ورکولو نوعیت، سیستم او سلسله مراتب..........5
د فرامینو اړوند د محرمو مستنداتو او معلوماتو ساتنه..........6
په ټولنه کې د فرامینو، قوانینو او اصلاحي برنامو په اړه سمینارونه او ورکشاپونه دائیرول..........6
په راډیو کې برخه اخیستل..........6
په دوامداره ډول د فرامینو او قوانینو درساً کارمندانو او محصلانو ته تدریس..........6
د تدریس میکانیزم:..........7
هغه فرامین چې د تطبیق او ارزښت په اړه یې..........7
د فرامینو او قوانینو په اړه پوهنتونونو کې د..........7

## سريزه

د هر منظم، مشروع او قانون‌محوره نظام بنسټ د هغه پر نافذه قوانينو او اصولو ولاړ وي. د افغانستان د اسلامي امارت د زعيم اميرالمؤمنين حفظه الله فرامين، احکام او لارښوونې د هېواد د نافذه قوانينو او شرعي اصولو په رڼا کې د نظام د پاليسيو، اجراآتو او اداري کړنو اساسي چوکاټ ټاکي. د دغو فرامينو او قوانينو پر وخت، دقيق او اغېزمن ابلاغ، تعقيب او نظارت نه يوازې د قانون د حاکميت تضمين کوي، بلکې د اداري نظم، شفافيت، حساب‌ورکونې او ښې حکومتولۍ لپاره حياتي ارزښت لري.

که د اميرالمؤمنين حفظه الله د فرامينو او د نظام د نافذه قوانينو د تطبيق لپاره روښانه تګلاره، مشخص مسؤليتونه او منظم نظارتي سيستم موجود نه وي، نو د قوانينو د نه تطبيق، سستی، اختلاف، اداري ګډوډۍ او حتی د صلاحيتونو د ناوړه کارونې زمينه برابرېږي. له همدې امله اړينه ده چې د ابلاغ، تعقيب او نظارت چارې د يوې جامع، منسجمې او واضح تګلارې له لارې تنظيم شي.

دا تګلاره د همدې اړتيا پر بنسټ جوړه شوې ده، څو د اميرالمؤمنين حفظه الله د فرامينو او د نظام د نافذه قوانينو د ابلاغ بهير چټک او اغېزمن کړي، د تطبيق بهير يې منظم تعقيب شي او د نظارت له لارې يې د پلي کېدو کچه، کيفيت او پايلې وارزول شي. دغه تګلاره د پوهنتون د ټولو واحدونو لپاره د لارښود حيثيت لري او د مسؤليتونو د روښانتيا، د همغږۍ د پياوړتيا او د اصلاح لپاره يو مهم بنسټ دی.

همدارنګه، دا تګلاره هڅه کوي چې د قانون د حاکميت فرهنګ پياوړی کړي، د اميرالمؤمنين حفظه الله د فرامينو او قوانينو پر وړاندې د ادارو د ژمنتيا کچه لوړه کړي او د تطبيق په بهير کې شفافيت او اغېزمنتيا تأمين کړي. د دې تګلارې پلي کېدل به د دې لامل شي چې د اسلامي نظام پرېکړې په واقعي ډول عملي شي د خلکو او ټولنې باور پر پوهنتون زيات شي او د هېواد اداري چارې د نظم او قانون پر محور ولاړې شي.

په پای کې، دا تګلاره د يوه منظم، ځواب‌ويونکي او قانون‌محوره اداري سيستم د رامنځته کولو په موخه ترتيب شوې ده، تر څو د اميرالمؤمنين حفظه الله فرامين او نافذه قوانين د کاغذ پر مخ نه، بلکې د عمل په ډګر کې په بشپړ ډول تطبيق شي.

### د تګلارې موخې

1 - د امير المؤمنين حفظه الله د فرامينو او نافذه قوانينو د منظم ابلاغ، تطبيق او اغېزمن نظارت له لارې د پوهنتون په کچه د قانون د حاکميت فرهنګ پياوړی کول.

2 - د فرامينو او قوانينو د رسولو لپاره يوه واحده، منظمه او واضح تګلاره رامنځته کول، تر څو ټول علمي او اداري واحدونه په وخت او دقيق ډول خبر شي.

3 - د اړوندو واحدونو د مسؤليتونو روښانه کول او د داسې سيستم رامنځته کول چې صادر شوي فرامين يوازې په سندي بڼه پاتې نه شي، بلکې په عملي ډول پلي شي.

4 - د نشراتو مديريت، اصلاحي پروګرامونو او رسنيزو فعاليتونو له لارې د استادانو، کارکوونکو،محصلينو او عامه وګړو پوهاوی لوړول.

### د تګلارې ارزښت

د اميرالمؤمنين حفظه الله د فرامينو او د نظام د نافذه قوانينو اغېزمن ابلاغ، تعقيب او نظارت د هر منظم او قانون محوره نظام له اساسي اړتياوو څخه ګڼل کېږي. دا چارې نه يوازې د قانون د حاکميت د ټينګښت سبب ګرځي، بلکې د دولتي ادارو د مشروعيت، انسجام او اغېزمنتيا اساسي بنسټ هم جوړوي. کله چې د اميرالمؤمنين حفظه الله فرامين او قوانين په روښانه، پر وخت او معياري ډول ټولو اړوندو ادارو ته ورسېږي او د هغوی د تطبيق بهير په دوامداره توګه وڅارل شي، نو د نظام پاليسي‌محوره پرېکړې په عملي واقعيت بدلېږي.

د دې تګلارې ارزښت دا دی چې د امیرالمومنین حفظه الله فرامین او نافذه قوانین د اسلامي امارت د پالیسي څرګندونه کوي او د هېواد د سیاسي، اداري، ټولنیز او اقتصادي چارو مسیر ټاکي. که د دغو فرامینو د ابلاغ بهیر نیمګړی، ناوخته یا غیر منظم وي، د تطبیق په برخه کې اختلاف، سستی او ناهماهنګي رامنځته کېږي چې پایله یې د قانون نه‌تطبیق، اداري ګډوډي او د نظام د اهدافو کمزوري کېدل دي. له همدې امله د ابلاغ، تعقیب او نظارت لپاره د یوې روښانه تګلارې شتون حیاتي اهمیت لري.

همدارنګه، د تعقیب او نظارت ټګلاره د دې ډاډ ترلاسه کوي چې صادر شوي فرامین او قوانین یوازې د کاغذ پر مخ نه پاتې کېږي، بلکې د عمل په ډګر کې پلي کېږي. منظم تعقیب ټول واحدونه اړ باسي چې خپل اسلامي مسؤلیتونه پر وخت ترسره کړي او اغېزمن نظارت د تطبیق کچه، کیفیت او پایلې ارزیابي کوي. دا بهیر د ادارو ترمنځ د حساب ورکونې فرهنګ پیاوړی کوي او د صلاحیتونو د ناوړه کارونې، شخصي تفسیر او بې‌پروایي مخه نیسي.

د دې موضوع بل مهم ارزښت د اداري همغږۍ او انسجام رامنځته کول دي. کله چې ټولې اداري د امیرالمؤمنین حفظه الله د فرامینو او نافذه قوانینو د ابلاغ او تطبیق لپاره له یوې واحدې تګلارې پیروي وکړي، د موازي کارونو، تداخل او تضاد مخه نیول کېږي. دا همغږي نه یوازې د امارتي سرچینو د اغېزمن کارونې سبب ګرځي، بلکې د تصمیم‌نیولو او اجراآتو بهیر چټک او مؤثر کوي.

سربېره پر دې، د ابلاغ، تعقیب او نظارت منظم سیستم د شفافیت او باور فضا رامنځته کوي. کله چې د قوانینو او فرامینو د تطبیق وضعیت روښانه وي او د ارزونې پایلې ثبت او راپور شي، نو د خلکو باور د پوهنتون په اداره زیاتېږي. دا باور د نظام د ثبات او دوام لپاره بنسټیز اهمیت لري او د نظام او ولس ترمنځ اړیکې پیاوړې کوي.

په پایله کې ویلای شو چې د امیرالمؤمنین حفظه الله د فرامینو او د شرعي نظام د نافذه قوانینو د ابلاغ، تعقیب او نظارت موضوع یوازې یو اداري بهیر نه دی، بلکې د شرعي قانون د حاکمیت، ښه حکومتولي، اداري اصلاحاتو او دوامدار ثبات لپاره یوه ستراتیژیکه اړتیا ده. د دې تګلارې عملي کېدل به د نظام پرېکړې له نظری حالت څخه عملي پړاو ته ولېږدوي او د یو منظم، مسؤل او قانون‌محوره نظام د رامنځته کولو لپاره به قوي بنسټ کېږدي.

## د تطبیق ساحه

دا تګلاره د پوهنتون په کچه د امیرالمؤمنین حفظه الله د فرامینو او د نظام د نافذه قوانینو د ابلاغ، تعقیب او نظارت د تنظیم په موخه ترتیب شوې ده او د پوهنتون په ټولو علمي، اداري او خدماتي واحدونو باندې لازم‌الاجرا ده.

د پوهنتون ټول واحدونه مکلف دي چې د دې تګلارې له احکامو سره سم د خپلو صلاحیتونو په چوکاټ کې کړنې وکړي او د ابلاغ، تعقیب، راپور ورکولو او نظارت په بهیر کې لازمه همکاري ترسره کړي.

## اصطلاحات او تعریفونه

1 - **تګلاره:** هغه منظم سند ته ویل کېږي چې د مشخصو اهدافو د تحقق لپاره اصول، طرزالعملونه، مسؤلیتونه او د تطبیق میکانیزمونه پکې تنظیم شوي وي او اړوند واحدونه د همدې سند له مخې کړنې ترسره کوي.

2 - **فرمان:** هغه رسمي حکم، لارښوونې یا امر ته ویل کېږي چې د نظام د مشر له لوري صادرېږي او د نافذه قوانینو او شرعي اصولو په چوکاټ کې لازم‌الاجرا وي.

3 - **نافذه قوانین:** نافذه قوانین هغه قوانین، مقررات، لوایح او اصول دي چې د صلاحیت لرونکو مراجعو له خوا تصویب او توشیح شوي وي او د تطبیق وړ رسمي اسناد ګڼل کېږي.

# د فرامینو او قوانینو نوعیت او د تطبیق کچه

## الف: د فرامینو او قوانینو نوعیت

د امیرالمؤمنین حفظه الله فرامین او نافذه قوانین د حقوقي او اداري ماهیت له مخې په لاندې ډول وېشل کېدای شي:

1. **عمومي فرامین او قوانین:** هغه اسناد چې د ټول هېواد په کچه نافذ وي او په عمومي ډول پر ټولو دولتي ادارو، په شمول د پوهنتونونو، لازم‌الاجرا ګڼل کېږي.
2. **اختصاصي فرامین او قوانین:** هغه فرامین او مقررات چې په ځانګړي ډول د لوړو زده‌کړو وزارت، علمي، اداري، مالي یا انضباطي چارو پورې تړاو ولري او مستقیم د پوهنتون په فعالیتونو اغېز ولري.
3. **اداري او تنظیمي هدایات:** هغه لارښوونې، کړنلارې او اجرایي هدایتونه دي، چې د اداري نظم، داخلي چارو او تطبیقي میکانیزمونو د تنظیم په موخه صادرېږي.
4. **اصلاحي او انضباطي فرامین:** هغه احکام چې د اصلاح، حساب ورکونې، انضباط او د اداري نیمګړتیاوو د اصلاح لپاره صادر شوي وي.

## ب: د تطبیق کچه:

ټولې اړوندې اداري مکلفې دي چې د صادر شوو فرامینو او نافذه قوانینو نوعیت وپېژني، د تطبیق کچه یې مشخصه کړي او د همدې کچې له مخې لازم اجراآت ترسره کړي. د تطبیق کچې په اړه هر ډول ابهام باید د پوهنتون له رهبری یا د صلاحیت لرونکي مقام له لارې روښانه شي.

## د فرامینو او حکمونو د ارشیف، ثبت او ساتنې سیستم

د امیرالمؤمنین حفظه الله فرامین او اسلامي امارت نافذه قوانین د پوهنتون په مرکزي آرشیف کې ثبت او ساتل کېږي. او همدارنګه ټولو واحدونو ته چې د ثبت په موخه تکثیر کیږي باید د یو ځانګړي فایلینګ له مخې یې ثبت او آرشیف کړي.

سربېره پر دې، د امیرالمؤمنین حفظه الله فرامینو او اسلامي امارت د نافذه قوانینو برېښنایي نسخې باید د پوهنتون په رسمي ډیجیټلي آرشیف، داخلي اسنادو مدیریت سیستم او نورو اړوندو خونديي بنو کې ثبت شي، تر څو د لاسرسي، مراجعې او ساتنې امکان یې د اوږدې مودې لپاره تضمین شي. د برېښنایي نسخو ساتنه باید د معلوماتو د خوندیتوب له اصولو سره سم ترسره شي.

د امیرالمؤمنین حفظه الله د فرامینو او اسلامي امارت د نافذه قوانینو د آرشیف کولو موخه دا ده چې سند په رسمي ډول خوندي پاتې شي، د اړتیا پر مهال ورته مراجعه وشي او د راتلونکو اداري او حقوقي مراجعو لپاره د باور وړ منبع وګرځي.

دا تګلاره تر هغه وخته پورې د پوهنتون په آرشیف کې معتبره او د استناد وړ ګڼل کېږي، تر څو چې د نوي سند له لارې تعدیل او یا لغوه نه شي.

## تکثیر او ابلاغ

د امیرالمؤمنین حفظه الله فرامین او اسلامي امارت نافذه قوانین د یوې منظمې تګلارې له مخې په رسمي ډول د سلسله مراتبو په پام کې نیولو سره د ټولو پوهنځیو ریاستونو، آمریتونو، ډیپارټمنټونو او اړوندو اداري واحدونو ته رسیږي.

د امیرالمؤمنین حفظه الله فرامین او اسلامي امارت د نافذه قوانین د تطبیق په موخه د پوهنتون ټولو اړوندو علمي او اداري واحدونو ته ابلاغېږي. تر څو د امیرالمؤمنین حفظه الله د فرامینو او د نظام د نافذه قوانینو د ابلاغ، تعقیب او نظارت چارې د همدې تګلارې له احکامو سره سم تنظیم او عملي شي.

د دې تګلارې د ښه تطبيق او عامه پوهاوي په موخه، اړوندې ادارې مکلفې دي چې د اميرالمؤمنين حفظه الله فرامين او اسلامي امارت نافذه قوانين خپلو کارکوونکو ته ورسوي او د اړتيا په صورت کې د دې تشريحي ناستو او لارښوونو لارې د هغې محتوا روښانه کړي.

د تکثير په برخه کې، د پوهنتون ټول اداري واحدونه مکلف دي چې خپلو ماتحت واحدونو ته يې په مکتوبي ډول صادر کړي.

## د تکثير او ابلاغ مسؤولين او د دوی مکلفيتونه

### د پوهنتون له رياست

کله چې د اميرالمؤمنين حفظه الله فرامين او اسلامي امارت د نافذه قوانين رياست ته راشي نو د رياست څخه بايد د دفتر عمومي مديريت ته د ثبت او تکثير په موخه وليږل شي. د دفتر عمومي مديريت به يې د ابلاغ په موخه رهبري شورا ته محول کوي.

همدارنګه د دفتر عمومي مديريت دنده لري تر څو د اميرالمؤمنين حفظه الله فرامين او د اسلامي امارت نافذه قوانين د علمي او محصلانو چارو معاونيت اجرأيه مديريت، د مالي او اداري چارو معاونيت اجرأيه مديريت د پوهنځيو د رياستونو مديريتونو ته د ثبت او تکثير په موخه او همدارنګه دعوت او ارشاد آمريت ته د ثبت او اجنډا ته د داخلولو په موخه( د دعوت او ارشاد کميټه کې به د اړتيا سره سم؛ ټولو واحدونو ته ابلاغ کول، سمينار او ورکشاپ او يا د څېړنې تصاميم ورباندې نيول کېږي)، او د پلان او احصايي مديريت ته لېږل کېږي.

د علمي او محصلانو چارو اجرأيه مديريت به يې د کيفيت لوړاوي آمريت اړوند مديريت، د استادانو د تقرر او علمي ترفعاتو آمريت، د مسلکي پرمختيا آمريت اړوند مديريت ته او همدارنګه د څېړنو او علمي مجلې آمريت اړوند د څېړنو او علمي مجلې اړوند معاونيت او د محصلانو چارو معاونيت ته د ثبت او تکثير په موخه ليږي.

د څېړنو او علمي مجلې لوی مديريت به يې د کتابتون لوی مديريت، د کتابونو د سمولو او د لابراتوارونو مديريتونو ته تکثير کوي.

د محصلانو چارو معاونيت به يې د اړوند آمريت او د انسجام معاونيت ته تکثير کوي.

د محصلانو چارو معاونيت به يې د فارغانو مديريت او د اسنادو د تهيه او ويش مديريت ته تکثير کوي.

همدارنګه د مالي او اداري چارو معاونيت په اداري مجلس کې به د اميرالمؤمنين حفظه الله فرامين او اسلامي امارت نافذه قوانين ابلاغ کيږي. د اړوند معاونيت د اجرأيه مديريت له طريقه به د کارکوونکو چارو مديريت، د حفظ و مراقبت مديريت، د تدارکاتو مديريت، د محاسبې مديريت، د معلوماتي ټيکنالوژي مديريت او د نشراتو او عامه اړيکو مديريت ته تکثير کوي.

د کارکوونکو چارو مديريت به يې د سوانح او تقاعد مديريت، د تدارکاتو مديريت به يې د اجناسو محاسبې مديريت ته او د معلوماتي ټيکنالوژي اجرائيه مديريت به يې د نرم افزار او سخت افزار مديريت ته تکير کوي.

همدارنګه د پوهنځيو د رياستونو مديريتونه به يې د څانګو آمريتونو، د پوهنځي د کيفيت لوړاوي کمېټې او د پوهنځي اړوند ټولو کميټو ته تکثير کوي.

د څانګو آمريتونه او د پوهنځي اړوند کميټې به د اړتيا سره سم لاندې تصاميم ورباندې نيسي:

1 - په ټولګيو کې ابلاغ کول؛

2 - سمينار او يا ورکشاپ؛

3 - څېړنه ورباندې کول.

## د نظارت او ارزونې عمومي مسؤولين او د تعقيب ډول

د اميرالمؤمنين حفظه الله د فرامينو او اسلامي امارت د نافذه قوانينو د اغېزمن تطبيق د ډاډ لپاره، په پوهنتون کې نظارت او ارزونه د تګلارې له مخې ترسره کېږي. د دې نظارت موخه دا ده چې د اړوندو فرامينو او قوانينو د تطبيق کچه، کيفيت او پايلې په دوامداره توګه وڅارل شي او ډاډ ترلاسه شي چې ټول علمي او اداري واحدونه خپلې دندې د نافذه اصولو او مقرراتو له مخې ترسره کوي.

لاندې واحدونه مکلف دي چې د نظارت بهير تنظيم کړي او د تطبيق د څارنې لپاره روښانه معيارونه، شاخصونه او طرزالعملونه وټاکي.

1 - د پوهنتون رهبري؛

2 - د دعوت او ارشاد کمېټه؛

3 - د کيفيت لوړاوي کمېټه

د پوهنتون اړوند ټول واحدونه مکلف دي چې د نظارت له ټيم سره همکاري وکړي، اړوند اسناد، راپورونه او معلومات پر وخت وړاندې کړي او د نظارتي پلاوي يا مسؤل واحد د ملاحظاتو او سپارښتنو پر بنسټ اصلاحات راولي. د نظارت پايلې بايد په منظم ډول ثبت شي او د پوهنتون رهبرۍ ته راپور شي.

د نظارت په بهير کې، که د فرامينو او قوانينو د تطبيق په برخه کې نيمګړتياوې، ځنډ، يا سرغړونې مشاهده شي، اړوند واحدونه مکلف دي چې د ټاکلې موده کې دننه د اصلاحي اقداماتو پلان ترتيب او عملي کړي. د اصلاحي اقداماتو تعقيب او بيا ارزونه د نظارتي مسؤل واحد له صلاحيتونو څخه ګڼل کېږي.

د نظارت موخه د ستونزو تشخيص، د تطبيق کيفيت لوړول او د اداري چارو اصلاح ده، نه يوازې د تخلفاتو ثبتول دي.

## د نظارت او ارزونې فرعي مسؤولين

د پوهنتون د ټولو علمي او اداري واحدونو اړوند مسؤلين د نظارت او ارزونې مسؤلين دي نو په همدې اساس ټول فرعي مسؤلين مکلف دي چې د نظارت او ارزونې په بهير کې د شفافيت، بې‌طرفي او مسؤليت اصل مراعت کړي، راپورونه په ټاکلي وخت وړاندې کړي او د اصلاحاتي سپارښتنو د عملي کېدو تعقيب وکړي. د فرعي مسؤلينو نه همکاري يا غفلت به د نافذه مقرراتو له مخې ارزول کېږي.

## د راپور ورکولو نوعيت، سيستم او سلسله مراتب

**الف: د راپور ورکولو نوعيت:** د اميرالمؤمنين حفظه الله د فرامينو او نافذه قوانينو د تطبيق د تعقيب او نظارت په موخه؛ دوراني، فوري، تحليلي او اصلاحي راپور ورکول کيږي.

**ب: د راپور ورکولو سيستم:** د راپور ورکولو سيستم بايد منظم، مستند او د ثبت وړ وي.

**راپورونه بايد:**

- په ليکلي رسمي بڼه ترتيب شي؛
- د اړوند مسؤل له خوا لاسليک او تاييد شي؛
- د ټاکل شوې فورمې او معيارونو سره سم چمتو شي؛
- په چاپي او برېښنايي ډول ثبت او آرشيف شي.

**ج: سلسله مراتب**

د راپور ورکولو سلسله مراتب باید د پوهنتون د تشکیلاتي جوړښت سره سم تنظیم شي:

1 - فرعي مسؤلین خپل راپورونه اړوند ریاست یا آمریت ته وړاندې کوي.

2 - ریاستونه او پوهنځي خپل راټول شوي راپورونه مرکزي همغږي کوونکي یا نظارتي مرجع ته سپاري.

3 - مرکزي نظارتي مرجع جامع راپور ترتیبوي او د پوهنتون رهبرۍ ته یې وړاندې کوي.

4 - د اړتیا په صورت کې تر ټولو فوق مرجع له لوري جامع راپور د لوړو زده کړو وزارت سره شریکېږي.

## د فرامینو اړوند د محرمو مستنداتو او معلوماتو ساتنه

د امیرالمؤمنین حفظه الله د فرامینو او نافذه قوانینو اړوند هغه اسناد، راپورونه او معلومات چې د ماهیت له مخې محرم، حساس یا محدود لاسرسي ته اړتیا ولري، باید د ځانګړو اصولو او امنیتي تدابیرو له مخې خوندي وساتل شي. د دغو اسنادو ساتنه د پوهنتون د اداري چارو مسؤل ریاست او اړوندو واحدونو ګډ مسؤلیت ګڼل کېږي.

## په ټولنه کې د فرامینو، قوانینو او اصلاحي برنامو په اړه سمینارونه او ورکشاپونه دائیرول

د امیرالمؤمنین حفظه الله د فرامینو او د اسلامي امارت د نافذه قوانینو او اصلاحي برنامو لپاره اړوندې اداري مکلفې دي چې د اړتیا په صورت کې سمینارونه او ورکشاپونه دائیر کړي. د دې سمینارونو او ورکشاپونو موخه دا ده چې د تطبیق په بهیر کې موجودې نیمګړتیاوې، ستونزې او احتمالي خنډونو په اړه کارمندانو ته پوهاوی ورکړل شي او حل لارې ورته وښودل شي.

په نوموړو سمینارونو، ورکشاپونو او غونډو کې د اړتیا په صورت کې باید د پوهنتون رهبرۍ، د نشراتو آمریت او اړوندو مسؤل واحدونه ګډون وکړي او د سمینارونو، ورکشاپونو او غونډو موضوعات باید له مخکې ټاکل شوې وي.

ټولې اداري مکلفې دي چې په دغو سمینارونو، ورکشاپونو او غونډو کې ګډون وکړي، د تطبیق او عملي کولو لپاره تعهد وکړي.

## په راډیو کې برخه اخیستل

د امیرالمؤمنین حفظه الله فرامینو او اسلامي امارت نافذه قوانینو د نشر لپاره د اطلاعاتو او کلتور ریاست سره په همغږۍ د دعوت او ارشاد کمېټې امریت په اساس له رسنیو (راډیو) سره د مرکو په موخه علمای کرام ټاکل کیږي. ټاکل شوي علمای کرام به د پوهنتون له لوري د دې صلاحیت لرونکي وي چې د موضوع پورې اړوند له رسنیو (راډیو) سره مرکې ترسره کړي.

د ټاکل شویو علمای کرامو صلاحیت به یې یوازې اړوند موضوع او د رهبرۍ د لارښوونو په چوکاټ کې وي. په دې برخه کې هېڅ بل علمي یا اداري کارکوونکي اجازه نه لري چې د امیرالمؤمنین د فرامینو او نافذه قوانینو په اړه له رسنیو (راډیو) سره خپل‌سرانه ځرګندونې وکړي.

## په دوامداره ډول د فرامینو او قوانینو درساً کارمندانو او محصلانو ته تدریس

د امیرالمؤمنین حفظه الله د فرامینو او نافذه قوانینو د اغېزمن تطبیق، د قانون د حاکمیت د فرهنګ پیاوړتیا او د مسؤلیت‌پالنې د روحیې د لوړولو په موخه، پوهنتون مکلف دی چې د یادو فرامینو او قوانینو اړوند مفاهیم، اصول او احکام په دوامداره او منظم ډول کارمندانو او محصلانو ته تدریس او تشریح کړي.

**د تدریسي او روزنیزو پروګرامونو تنظیم:** د پوهنتون د دعوت او ارشاد کمیته مکلفه ده چې د کال په اوږدو کې د فرامینو او قوانینو اړوند روزنیزې ناستې، سیمینارونه، ورکشاپونه او اصلاحي مجلسونه تنظیم کړي. دغه پروګرامونه باید د اړتیا، موضوع او مخاطبینو له کچې سره سم طرحه شي.

**د تدریس میکانیزم:** تدریس او پوهاوی کېدای شي د حضوري ناستو، درسي نصاب د تکمیلي موضوعاتو، بربښنايي موادو، اطلاعیه‌وو او نشراتو له لارې ترسره شي.

## هغه فرامین چې د تطبیق او ارزښت په اړه یې باید څېړنې وشي

د امیرالمؤمنین حفظه الله هغه فرامین او اړوند نافذه قوانین چې د پوهنتون پر علمي، اداري، فرهنګي او انضباطي چارو ژور اغېز لري، باید د تطبیق تر څنګ د علمي او اداري څېړنې له پلوه هم وارزول شي، تر څو د هغوی عملي پایلې، اغېزمنتیا او ارزښت په دقیقه توګه روښانه شي.

## د فرامینو او قوانینو په اړه پوهنتونونو کې د عامه پوهاوي سمینارونه او ورکشاپونه دائیرول

د امیرالمؤمنین حفظه الله د فرامینو او نافذه قوانینو د تطبیق، تعقیب او عامه پوهاوي په موخه، د دعوت او ارشاد کمیټه مکلفه ده چې د کال په جریان کې یوه منظم اصلاحي پروګرام ترتیب او پلي کړي. دا پروګرام باید د اطلاعاتو او کلتور ریاست، او امربالمعروف ریاست سره په بشپړه همغږي جوړ شي، تر څو د تطبیق چارې په اغېزمن، منظم او قانوني ډول پرمخ ولاړې شي.

د پروګرام جوړولو بهیر باید د کال په پیل کې پلان او د اړوندو ادارو سره شریک شي. د فعالیتونو لپاره باید مهالویش جوړ شي او د مسؤلینو مسؤلیتونه واضیح شوي وي.

د اړوندو راپورونو او اسنادو چمتو کولو لپاره باید مربوط اداري هر اړخیزه همکاري وکړي او د پروګرام پایلې د کال په اوږدو کې د پوهنتون رهبری او اړوندو ریاستونو ته وړاندې کړي. د پروګرام ارزونه او پایلې باید په منظم ډول ثبت، آرشیف او د راتلونکو کالونو لپاره د لاربنود په توګه وکارول شي.

د دې کالني اصلاحي پروګرام جوړول او عملي کول د دې تضمین کوي چې د پوهنتون ټول واحدونه د امیرالمؤمنین د فرامینو او نافذه قوانینو په برخه کې یو واحد، همغږی او اغېزمن دریځ لري او د علمي، اداري او کلتوري چارو بهیر په منظم ډول پرمخ روان دی.

**د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د فرامینو او اسلامي امارت د نافذه قوانینو د ابلاغ، تطبیق او نظارت تګلاره په (۷) صفحو کې د دعوت او ارشاد کمیټې په ( ۹ ) ګڼه او ( ۱۳ / ۴ /۱۴۰۴) نېټه او د پوهنتون د علمي شورا په ( ۱ ) ګڼه او ( ۱۸ / ۱۰ /۱۴۴۷) نېټه غونډه کې تائید ده.**

۱۴۰۵/۱/۱۶

مولوي شبیراحمد عباس

د اناستو پوهنتون رئیس

AFGHANISTAN NATIONAL AGRICULTURAL SCIENCES AND TECHNOLOGY UNIVERSITY

1392